محمد هارون خپل شعشعی


۱۸ می ۲۰۱۲

# « آغلې »که « ښاغلې »؟

« آغلی » او« ښاغلی » د پښتو له داسي لرغونو ټکو څخه دي، چي د دې ژبې په خورا ډېرو ادبي اثارو کي (کي يې) پرېمانه بولګي او مثالونه ګورو. ښاغلی ( مذکر) او ښاغلې ( مؤنث) له پخوا څخه تر اوسه پوري د پښتو په جنوب - لوېديځه لهجه کي ژوندي او مستعمل ټکي دي؛ په داسي حال کي، چي آغلی ( مذکر) او آغلې ( مؤنث) له ډېرو وختو راهيسي د خلګو په ورځنيوخبرو او محاورو کي مړه دي .

هيڅ شک او شبهه نسته، چي د ژبې د زړو او نابابه ټکو را ژوندي کول او بيرته رواجول د لغوي زېرمي د پراخولو او بډايولو له اړخه، ډېر معقوله او ګټوره خبره ده؛ خو سره له دې هم دا کار په ټولو شرايطو او حالاتو کي هرومرو تر برياليتوبه نه رسيږي؛ ځکه د ټولو ژبو، له هغې ډلې څخه د پښتو ځيني کليمي، عبارتونه، محاورې، اصطلاحات، انګېرني او داسي نور ژبني جوړښتونه د ټولني د هر بل ژوندي موجود غوندي تر يوې ټاکلي دورې وروسته له استعماله لوېږي؛ او ځای يې د خپلي يا پردی ژبې ځيني نوري کليمي نيسي . دې بدلون او اوښتون ته بايد په واقعيت کي د کليمو د ژوند او مرګ هغه قانون و وايو، چي د سياسي، اجتماعي، فرهنګي، فکري او اقتصادي شرايطو پر بېلوالي او توپير سربېره، پر ټولو بشري ټولنو يو راز واکمن دئ . د دې استدلال له مخي نو، تر هغه مهاله چي په ټولنه کي د زړو کليمو و بيا را ژوندي کېدو او رواج موندني ته سياسي، اجتماعي، کولتوري/ کلتوري ، فکري او اقتصادي امکانات برابر نسي، د يوې مړې او نابابه کليمي را ژوندی کول هم د پسرلنی هينمي په شان، ډېر پايښت نسي کولای . زموږ په رسمي او مطبوعاتي ژبه کي د« آغلې » بيا را برسېره کېدل هم ماته همداسي هينمه ښکاري؛ ځکه دا ټکی له پېړيو راهيسي د پښتنو په ورځنيو خبرو او محاورو کي مړ سوئ دئ . په خواشينی سره يې په را ژوندي کولو او بيا دودولو کي هم ژور او هراړخيز پام نه دئ سوئ . راسئ په لاندي کرښو کي وګورو، چي « آغلی » د پښتو په ادبي متونو کي، په څه مانا راغلئ دئ؛ له ګرامري پلوه څه حالتونه لري؛ او په اختصاصي ډول يې و ښځو ته کاروَنه، علمي جواز لرلای سي که څنګه؟

لوی استاد- اروانباد علامه حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰ع - ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴ع) د محمد هوتک د « پټې خزانې » په حاشيو کې د غوريانو د دربار د نومیالي شاعر، ښکارندوی، په یوه قصیده کې د « آغلي » و تشریح ته داسي کښلي دي : « آغلی بمعنای زیبا و آراسته و خوشگل و قشنگ است . مؤنث آن آغلې به یای مجهول . » [۱]

د پښتو ژبې او ادب د وتلي او منلي استاد - علامه عبدالشکور رشاد ( ۱۳۰۰- ۱۳۸۳ش) اروا دې خدای تل ښاده او خوشاله لري، چې په بېلابېلو پښتو متونو کې د خپلو ژورو څېړنو او موندنو له برکته، د « آغلي » پر مخکنۍ حقیقي مانا( ښایسته، ښکلی/ کښلی، پی مخی) سربېره د هغه مجازي مانا ( ښه سړی، بزرگ/ زبرگ، د روحاني برخي تښتن) [۲] او گرامري حالتونه هم را ښوولي دي . دلته د همدې دروند او فاضل استاد د عالمانه څېړنوپه رڼا کي لومړی د « آغلي » بېلابېل حالتونه بیانوو؛ او بیا په پښتو کي د ښځو د احترام، تعظیم او تکریم دپاره هغه کلیمه ښیو، چي په څو دلیله تر« آغلي » مناسبه او معقوله برېښي .

د پښتو په ځينو لرغونو ادبي متونو کې د « آغلي » بېلابېل گرامري حالتونه :

د غوریانو د دربار شاعر، ښکاروندوی، په خپله ښکلي پسرلنی قصیده کي دا ټکی د مذکر صفت په بڼه داسي کار کړی دئ :

له مرو خاور يې آغلی گل راويوست

وچ او غر يې کړ له جنتونو [۳]

د احمدشاهبابا( ۱۱۳۵ - ۱۱۸۶ هـ ق) په دیوان کي ددې کلیمي مذکر جمع، په معيتي(cumulative) حالت کي د« آغلي ăğali » په بڼه، داسي راغلي ده :

خسته زړونه آلوده دي محمده!

نظر وکړه چي پوده دي محمده!

که دا نفس وشیطان ډېرکوي جنگونه

ستا آغلي را سره دي محمده! [۴]

ښکارندوی د همغي قصيدې په يو بل بيت کي د « آغلي » مؤنث جمع د« آغلیه ăğalya » په ډول، داسي راوړې ده :

پښتونخوا ښکلي ځلمي چي ځغلي هند ته

نو آغلیه پيغلي کاندي اتڼونه [۵]

د خوشال خان خټک د زوی، عبدالقادر خان خټک، په ديوان کي د « آغلي » د مؤنث مفرد دپاره د « آغله ăğalə » کليمه راغلي ده :

پر لاري تلمه، په مخه راغله

په مخ تر گل وه، ښايسته آغله [۶]

شېخ تيمن ( په« مخزن افغانی » کي د نعمت الله هروي د روايت له مخي په ۱۰۰۲ هـ ق کي مړ) دا کليمه په ندايي(vocative) حالت کي د مذکر مفرد دپاره داسي کار کړې ده :

د ښبنتن پار دئ هېر مي نه کړي

آغليه! مخ چي په يانه کړي [۷]

پيرمحمد کاکړ، د جمعي دپاره په ندايي حالت کي، داسي راوړې ده :

حصار د ميني په لوی کړنگ سوم

اوس را رسیږئ خپلو آغلیو!

په وروستییو درو مثالو کي « آغله، آغلیه، آغلیو » دري سره د موصوف پر ځای استعمال سوي دي .

د خوشال خان ختک زوی، صدر خان ختک، د ۱۱۱۸ هـ ق په شا و خوا کي د آغل له مصدر څخه ( چي د ښایسته کېدلو او ښه ایسېدلو مانا به لري) د« آغی ãğay » په شکل د ماضي زماني د واحد مذکر غایب صیغه جوړه کړي ده :

چي آدم ور لره راغی

در، دېوار باندي ښه آغی[۸]

د صدر خان ختک د زماني یو بل شاعر، مصري خان ګګیاني، هم د « آغی » ماضي مذکره مفرده غایبه صیغه راوړې ده :

له حِجازه دلي راغلې، په خپل قوم کي ښه آغلې

قوم کل په تا ښه آغی، اې د درست اولس سینګاره! [۹]

په دغه بیت کي « ښه آغلې » د « ښه وایسېدئ » مانا لري، چي د ماضي زماني د واحد مخاطب صیغه ده .

عبدالقادر ختک په یوسف او زلیخا کي د « آغلې » مؤنثه ښه داسي راوړې ده :

د یوسف کجاوه راغله

نهایت ښایسته آغله[۱۰]

د جهاندارشاه په کیسه کي، چي احمدي صاحبزاده ( ۱۱۵۵ - ۱۲۳۳ هـ ق) نظم کړېده، آغی کلیمه د« ښایسته » او « ښه و ایسېدئ » دواړي ماناوي ورکیي :

دی تري وجاروت زر کور وته نور راغی

د مسجد خلکو ته ستوري په رنګ آغی[۱۱]

د خوشال خان ختک ( ۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق ) په یوه بیت کي « آغلی » او « ښاغلی » دواړه راغلي دي :

چي ښه جمال لري هغه ښه خال لري

مخ دي آغلی دئ خال دي ښاغلی دئ [۱۲]

د پښتو ادب د مشهورو شاعرانو په کلام کي مو د« آغلي » بېلابېل ګرامري حالتونه ولیدل . اوس پوښتنه دا ده : هغه صفت څنګه یوازي و ښځو ته اختصاص پیدا کولای سي، چي له دواړو جنسو( مذکر او مؤنث) سره استعمال سوئ دئ؛ بلکي تر ښځینه جنس له نارینه جنس سره ډېر راغلئ دئ؟! که ښځو ته « آغلې ãğale » وایو، بیا نو د څه دلیل له مخي ونارینه وو ته « آغلی ãğalay » نه وایو؟! ځکه هغه څه چي و ښځو ته سم ګڼل کیږي ونارینه وو ته هم باید سم و بلل سي؛ حال دا چي نارینه وو ته « ښاغلی » وایو؛ او ښځینه وو ته بې څېړني او پلټني« آغلي » راپورته سوه .

کله چي په لرغوني ادب او جنوب - لوېدیځه لهجه کي د ښځینه جنس د احترام، تعظیم، تکریم، ښکلا او ښایست دپاره د « ښاغلی » ژوندی او مستعمله کلیمه لرو، بیا نو د مړي او نابابه کلیمي ( آغلي) و ګور به ګوره کولو ته څه اړتیا وه؟! له داسي ژبپوهانو څخه باید پوښتنه وسي، چي په یوه نامناسب ځای کي د دغه راز مړي او متروکي کلیمي په را ژوندي کولو سره، په لوی لاس د خلګو ژوندی او مروجي کلیمي له چلنده نه باسو؟! ماته خو په دي کار کي د ژبپوهني، عقل او منطق هیڅ څرک نه ښکاري . ایا خلګ به دي ناسمو او نامعقولو « نوښتو»ته غاړه کښېږدي؟! مګر په دي ساده او روښانه حقیقت مو سر نه خلاصیږي، چي خلګ همېشه د خپلو کلیمو، عبارتو،

محاورو، اصطلاحاتو، متلو او داسي نورو ژبنيو او فرهنگي ميراثو په ساتنه کي تر وسه وسه مقاومت کيي . ايا دا کار په څرګند ډول نه ښيي، چي زموږ ځيني تلواري ژبپوهان، ليکوال، شاعران، ژورناليستان او نور فرهنګيان په ژبه کي د پلټني او څېړني پر ځای د احساساتو او بی خبری له مخي پرېکړي کيي؟!

د پښتو محقق او مدقق ژبپوهان پوهېږي، چي « ښاغلی ṣā́ğalay » او « ښاغلې ṣā́ğale » له پېړيو پېړيو څخه تر اوسه پوري د پښتو په جنوب - لوېديځه لهجه کي په مذکره او مؤنثه صيغه پراخ استعمال لري؛ مثلاً په کندهار کي د نارينه د درناوي، قدر او عزت دپاره وايي : « شيرين اخښی تر ټولو ښاغلی ځښن دئ »، « احمد چا دونه ښاغلی کئ، چي په هر کار کي بابايي کيي؟ »، « ورسه ته هم د هغو ښاغلو په ډله کي کښېنه! » او داسي نور . « ښاغلې » په مؤنثه صيغه کي داسي استعماليږي : « څو مياشتي تېري سوې؛ خو دا ښاغلې لا هره ورځ پر کوربچه ناسته ده؛ او د کور و هيڅ کار ته لاس نه ور وړي »، « نازو! آ ښاغلې مېلمنه دي ولاړه که دلي ده؟ »، « شينکی که ښاغلې نه وای، خلګو به دونه غوړمالی نه ورته کولای » او داسي نور . د خوشال خان ختک په يوه څلوريځه کي همدا مؤنثه صيغه ( ښاغلې) داسي راغلې ده :

تر سر تر پايه ليلا ښاغلې ده

سينه يي ځکه د مجنون داغلې ده

مينه څه هسي آسانه نه ده

چي ببځايه په چا راغلې ده [۱۳]

« ښاغلی » او « ښاغلې » د پښتو لرغوني؛ خو تر اوسه ژوندی او مستعملي کليمي دي . په داسي حال کي چي « آغلی »، « آغله » او « آغلې » له عمرو راهيسي زموږ په ورځنيو خبرو او محاورو کي مړي دي . کله چي زړي کليمي په ژوندی او مستعمله بڼه لرو، بيا نو د نامناسب مفهوم دپاره د مړو او متروکو ټکو و را ژوندي کولو ته هيڅ اړتيا نه پېښيږي . لکه څنګه چي د انګرېزي ژبي ميسټه/ ميسټر(MISTER) او مسيز (MISTRESS) کليمي په خپلو منځو کي بشپړه همرنګي او تَجانُس لري، « ښاغلی » او « ښاغلې » هم د شکل او مانا له پلوه يو له بله پوره همرنګي او تَجانُس لري، بلکي دواړي د يوې کليمي مذکر او مؤنث شکلونه دي . په بله وينا کله چي نارينه ته « ښاغلی » وايو، ښځي هم ته بايد هرومرو « ښاغلې » و وايو؛ حال دا چی د« ښاغلي » او « آغلې » تر منځ دا شکلي او مانوي ( معنوي) همرنګي نه ليدل کيږي . په بله وينا نارينه ته « ښاغلي » او ښځي ته « آغلې » ويل هيڅ منطق نه لري .که څه هم د لوی استاد- اروابناد علامه حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰ع - ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴ع ) په باور « ښاغلی » له « ښه » او « آغلی » څخه جوړ سوئ دئ[۱۴]؛ خو سره له هغه هم له « آغلي » سره په جوړښت، شکل او مانا کي واضح توپير او بېلوالی لري . د دې دلايلو له مخي نو په زغرده ويلای سو، چي« ښاغلې » تر « آغلې » ډېره مناسبه او معقوله ده . زموږ تلواري ژبپوهانو بايد و مطبوعاتو ته د دې ټکي تر را ايستلو مخکي د هغې پر ټولو اړخو ژور فکر کړئ وای .

**لمنليکونه**


۱ عبدالحی حبيبي، تصحيح و تحشيه و تعليقات پټه خزانهء محمد هوتک ( کابل : پښتو ټولنه، ۱۳۲۳) ۵۱ .

۲ پوهاند عبدالشکور رشاد، د پټي خزانې فرهنګ ، دوې برخي . ( کابل : د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی،۱۳۶۲) ۱۰ .

۳ پټه خزانه ۵۱؛ رشاد ۱۱ .

۴ د لوی احمد شاه بابا دیوان، د کابل چاپ ۱۹۸؛ رشاد ۱۱ .

۵ پټه خزانه ۵۵؛ رشاد ۱۲ .

۶ د عبدالقادر خټک دیوان، کندهار چاپ ۱۶۸؛ رشاد ۱۲ .

۷ پټه خزانه ۶۳؛ رشاد ۱۲ .

۸ د آدم خان او درخانۍ قصه ۶۲؛ رشاد ۱۴ .

۹ د مصري خان ګګياڼي چاپي دیوان ۱۶۹؛ رشاد ۱۴ .

۱۰ رشاد ۱۴ .

۱۱ د چاپي قصې ۶۴ مخ ؛ رشاد ۱۵ .

۱۲ خوشال خان خټک، د خوشال خان خټک کلیات، د عبدالقیوم زاهد مشواڼي اوډنه، پرتلنه، سمون او ويپيانګه ( کابل : دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴) ۴۴۳.

۱۳ خوشال خان خټک ۳۹۷ .

۱۴ حبيبي، « د پښتو سيند به څنګه ليکل کيږي؟ » وږمه ۱ - ۲ ( ۱۳۴۵ ) ۵ .